**د کلب لیول سیالیو عمومي لارښود**

دا لارښود د دې لپاره ترتیب شوی چې د افغانستان د کلب لیول سیالۍ په منظم، شفاف او عادلانه ډول ترسره شي. د دې اصولو موخه دا ده چې د کلبونو، لوبغاړو او د کورني کرکټ د اداري ترمنځ روښانه همغږي رامنځته شي، د لوبغاړو حقونه خوندي شي او د سیالیو کیفیت لوړ شي. ټول کلبونه، لوبغاړي او مسوولین مکلف دي چې د لاندې لارښوونو پابندي وکړي.

**۱. د کلبونو راجستریشن**

د کلبونو راجستریشن به د ۲۰۲۶ میلادي کال د مارچ میاشتې تر شپږمې (۶) نیټې پورې دوام لري. له دې نیټې وروسته به د هېڅ کلب راجستریشن نه منل کېږي.
هر کلب باید د راجستریشن تر بشپړېدو وروسته، د مارچ تر اتمې (۸) نیټې پورې د خپلو لوبغاړو ټول اړوند اسناد ولایتی آمریت ته وسپاري. دا اسناد شامل دي:

- د لوبغاړو امضا شوې فورمې
- د تذکرو کاپي
- نور اړوند معلومات چې دا ثابته کړي لوبغاړي د هماغه ولایت اوسېدونکي دی

**یادونه :**مخکې له دې چې فورمې او اسناد وسپارئ، دا حتمي ده چې هر لوبغاړی د خپل رول او اسنادو څخه بشپړ ډاډمن شي او ټول معلومات یې په دقیق ډول چک کړي وي.

**۲. د ثبت فورمه او بدلون**

د دې اصولنامې سره د لوبېدلو د ثبت فورمه ضمیمه ده. پدې فورمه کې د لوبغاړو شمېر، رول او ځانګړنې شته دي.

- دا فورمه به د ولایتي آمریت او وروسته کورني کرکټ څانګې ته سپارل کېږي او د هغوی له منظورۍ وروسته به پکې هیڅ ډول بدلون د منلو وړ نه وي.
- د همدې فورمې پر بنسټ به د کورني کرکټ د بېلابېلو ایونټونو لپاره د لوبغاړو انتخاب کېږي.
- په فورمه کې هر ډول قلم‌خوري یا بدلون د منلو وړ نه دی.
  که د کوم ټیم فورمه قلم‌خوري ولري، نو هغه ټیم به د کلب لیول سیالیو څخه ایستل کېږي.

**۳. بریښنايي تذکیرې شرط**

هر کلب مکلف دی چې د راجستریشن پر مهال د خپلو ټولو لوبغاړو بریښنايي تذکیرې ولري. له بریښنايي تذکیرې پرته هېڅ لوبغاړي ته د کلب لیول سیالیو کې د راجستریشن اجازه نه ورکول کیږي البته د راجستریشن پر مهال باید ولایتي استازی د هر لوبغاړی اصلي بریښنايي تذکیره دقیق چیک کړي.

همدارنګه، د غوښتنې یا تفتیش پر مهال باید د هر کلب سره د لوبغاړو اصلي بریښنايي تذکیره موجود وي. که چېرې کلب د خپلې لوبېدلې ټولی اصلي بریښنايي تذکیرې ونه لري، نو یاد کلب به د سیالیو څخه محروم شي.

که چېرې کوم کلب یا لوبغاړی د بریښنايي تذکیرې له نه شتون سره سره په کلب لیول سیالیو کې لوبېدلی وي، نو د اړوند کلب یا اکاډمۍ مسؤول او ولایتي استازی به د اصولو له مخې د سزا وړ ګڼل کېږي.

### ۴. د بل ولایت لوبغاړي

هر لوبغاړی یوازې د دوو ولایتونو له لوري د لوبېدو حق لري. د بېلګې په توګه، که یو لوبغاړی د لغمان ولایت اصلي اوسېدونکی وي، خو دا مهال په ننګرهار ولایت کې ژوند کوي، نو هغه کولای شي یا د لغمان ولایت څخه ولوبیږي او یا هم د ننګرهار ولایت څخه.

که لوبغاړی دا انتخاب وکړي چې د ننګرهار ولایت له لوري ولوبیږي، نو هغه مکلف دی چې په رسمي ډول دا ثابته کړي چې په یاد ولایت کې میشت دی. د دې موضوع د تثبیت لپاره د لاندې اسنادو وړاندې کول اړین دي:

- که محصل وي: د محصلی کارت
- که رسمي دنده ولري: د دندې قرارداد
- که کاروبار لري: د کاروبار اسناد او د شاروالی تایید
- همدارنګه چیری چی اوسیري د اړونده حوزې رسمي اسناد او تائید حتمي ده

دا ټول اسناد د دې لپاره دي چې دا ثابته شي نوموړی لوبغاړی رښتیا هم په هماغه ولایت کې ژوند کوي.

### ۵. د کلب بدلون او د لوبغاړو شمېر

یوازې د روان ۲۰۲۶ میلادي کال لپاره ټولو لوبغاړو ته دا اجازه ورکول کېږي چې که وغواړي خپل کلب بدل کړي. له دې وروسته به دا اجازه یوازې د کورني کرکټ د اصولو له مخې ورکول کېږي. په هر کلب کې باید ټول ۱۳ لوبغاړي ثبت وي. د کلب مسوولین باید هڅه وکړي چې لږ تر لږه په هر مېچ کې پوره ۱۱ لوبغاړي حاضر وي.

- که په یو مېچ کې یو لوبغاړی کم وي، نو ټیم ته به اخطاریه ورکول کېږي.
- که دا حالت په بل مېچ کې بیا تکرار شي، نو هغه ټیم به بل کال د کلب لیول سیالیو کې د ګډون اجازه ونه لري.

### ۶. د لوبغاړو د لوبو شرط

په سکواډ کې شامل هر لوبغاړی باید لږ تر لږه درې لوبې ترسره کړي. لدې درې لوبو څخه باید لږ تر لږه دوه لوبې د هغه د ټاکلي رول او پوزېشن مطابق وي .که کوم کلب خپلو لوبغاړو ته دا فرصت ورنکړي چې لږ تر لږه درې لوبې ترسره کړي، نو هغه کلب به بل کال د کلب لیول سیالیو کې د ګډون اجازه ونه لري.

### ۷. د ثبت فورمې تائید او مسوولیت

په کلب لیول سیالیو کې شامل ټول لوبغاړي مکلف دي چې د خپلې ثبت فورمې ټول معلومات په دقت سره وڅېړي او له ډاډ وروسته یې امضا کړي.که چې دا فورمه د کورني کرکټ څانګې ته وسپارل شي، نو له هغې وروسته پکې هېڅ ډول بدلون یا اصلاح د منلو وړ نه ده.

### ۸. په څو کلبونو یا ولایتونو کې د لوبېدو منع

هیڅ لوبغاړي ته اجازه نشته چې په یو وخت کې د دوو کلبونو یا د دوو ولایتونو له لوري ولوبیږي. که کوم لوبغاړی لدې اصل څخه سرغړونه وکړي، نو یاد لوبغاړی به د اصولو له مخې مجازات کېږي. سربېره پر دې، د هغه دویم کلب مسؤول، روزونکی او هر بل دخیل کس به هم د سزا وړ ګڼل کېږي.

همدارنګه، که ولایتي مسؤول پر وخت د کورني کرکټ څانګې ته خبر ورنه کړي او د یادې سرغړونې د مخنیوي لپاره لازم اقدام ونکړي، نو ولایتي مسؤول به هم مسؤل بلل کېږي او مجازات به شي.

### ۹. د اکاډمۍ له لوري راجستر شوې لوبډلې

هره لوبډله چې د اکاډمۍ له لوري راجستر کېږي، حتمي ده چې د هغې ټول لوبغاړي د هماغې اکاډمۍ رسمي کارت ولري. که چېرې کومه اکاډمۍ داسې لوبغاړي په خپل نوم راجستر کړي وي چې له اکاډمۍ سره رسمي تړاو ونه لري، نو یاده اکاډمۍ به د اصولو له مخې حتمي مجازات کېږي.

### ۱۰. د کم عمر لوبغاړو ګډون منع

له دېارلس کلونو څخه د کم عمر لوبغاړو لپاره، د دوی د خوندیتوب په موخه په کلب لیول سیالیو کې د ګډون او لوبېدو اجازه نشته.

### ۱۱. د معلول لوبغاړو ګډون

ټول معلول لوبغاړي د بشپړ احترام وړ دي خو د رسمي کلب لیول سیالیو په چوکاټ کې هغوی د ګډون اجازه نه لري.

### ۱۲. د سیالیو د پیل نېټه

د کلب لیول سیالۍ به په ټول هیواد کې، په ټولو ولایتونو کې په یو وخت د روان ۲۰۲۶ میلادي کال د مۍ میاشتې په لومړۍ نېټه په رسمي ډول پیل کېږي.

### ۱۳. د بالونو معیار او تائید

د ټولو کلبونو لپاره به یو ډول او معیاري بالونه کارول کېږي، چې مناسب قیمت ولري. ټول بالونه باید د استعمال ته مخکې د کورني کرکټ څانګې لخوا تائید شي، تر څو د سیالیو معیار او ورته والی تضمین شي.

### ۱۴. د کلب لیول سیالیو جوړښت او د ګرید ۲ لپاره انتخاب

د کلب لیول سیالۍ به په ټولو ولایتونو کې د یو واحد او منظم پروګرام له مخې ترسره کېږي او ټیمونه به په بېلابېلو ګروپونو وېشل کېږي. په هر ګروپ کې به ۶ ټیمونه شامل وي او هر ټیم به ۵ سیالۍ ترسره کوي.

د کورني کرکټ څانګه به هر کال د ټیمونو د ښه جوړښت، لوړ کیفیت او سالم رقابت د تضمین لپاره لازم او اړین اقدامات ترسره کوي. د هر ګروپ د ۵ سیالیو له پایلو وروسته، هغه کلبونه چې په خپل ګروپ کې لومړی، دویم، دریم او څلورم مقام ترلاسه کړي وي، یوازې هماغه کلبونه به د ګرید ۲ سیالیو سلیکشن پروسه کې شاملیدلی شي. د پاتې دوه کلبونو لوبغاړي به د ګرید ۲ د انتخاب په پروسه کې شامل نه وي.

**۱۵. د لوبغاړانو او نمره شمیرونکو تنظیم**

هغه لوبغاړان چې خپل شخصي کلب ولري، اجازه نه لري چې د خپل کلب په سیالیو کې د لوبغاړی دنده ترسره کړي. د کرکټ د لوبې رسمي چارواکي مدیریت او د کورني کرکټ څانګه به دا تضمینوي چې د یو ولایت لوبغاړان او نمره شمیرونکي په بل ولایت کې د لوبغاړی دنده ترسره کړي، تر څو د هر ډول مداخلې او پلویتوب مخه ونیول شي.

**۱۶. د میدان د کیچ اغېز په لوبغاړو**

- د توپ وهونکې د هر غورځول شوي کیچ په بدل کې ۱۰ منډې کسر کېږي.
- که د توپ اچونکي د توپ اچونې پر مهال بل لوبغاړی کیچ وغورځوي، توپ اچونکي ته "د نیمې وکټ ارزښت" ورکول کېږي او که توپ اچونکي خپله په خپله بالنګ کې کیچ وغورځولو نو د نیمې وکټې ارزښت هم له لاسه ورکوي.
- که ډګر ساتونکی/فیلډر کیچ وغورځوي
  - که توپ وهونکی وي نو ۱۰ منډې ترې کمیږي
  - که توپ اچونکی وي نو نیمه وکټ به ترې کمیږي

اصلي ټکی :ټول غورځول شوي کیچونه او ضایع شوې وکټې د لوبغاړو په فعالیت او نمرو مستقیم اغېز لري.

**۱۷. د کلب لیول فیسونه**

د کلب لیول سیالیو لپاره دوه ډوله ولایتي فیسونه تعریف شویدي:

**۱. هغه ولایتونه چې سیالۍ یې په رسمي لوبغالو کې ترسره کېږي:** دا هغه ولایتونه دي چې د کرکټ بورډ رسمي لوبغالي لري، یا د لوبغالي ځانګړی فیس نه لري.

**۲. هغه ولایتونه چې سیالۍ په کرایه شویو لوبغالو کې ترسره کېږي:** په دې ولایتونو کې د لوبغالي کرایه د کلب فیس په زیاتوالي کې رول لري.

**د فیسونو تخمین**

په لاندې جدول کې یوازې هغه مصارف شامل دي چې د هر کلب ټیم باید د ۵ میچونو لپاره ورکړي:

- د لوبغالي دننه دوه لوبغاړانو او یو ریزرف لوبغاړ فیس
- د دوه نمره‌شمیرونکو فیس
- د بالونو مصارف
- اداري مصارف

ټول مصارف :د هر ټیم لپاره د ۵ میچونو په اساس ۹۷۵۰ افغانۍ

- هغه ولایتونه چې رسمي لوبغالی نلري، کلبونه یوازې همدا ۹۷۵۰ افغانۍ د مصارفو لپاره ورکوي. لدې نه باید اضافه پیسې وانه خیستل شي.

- هغه ولایتونه چې میچونه یې په شخصي لوبغالو کې ترسره کېږي، کرکټ بورډ هڅه کوي چې د لوبغالو سره رسمي قرارداد ولري، او د لوبغالي فیس به په ټاکلي مبلغ کې اضافه کوي. د بورډ له لوري به د لوبغالي فیس شفاف او رسمي اعلان شي.

**د فیسونو د بدلون امکان**

- که چیرې میچونه د بورډ نورو پروګرامونو یا مهالویشونو له امله په شخصي لوبغالي کې پلان شوي وي، او وروسته د کوم تغیر له وجې بیرته د کرکټ بورډ په رسمي لوبغالو کې ترسره شي، نو د کلب مالک باید هغه مبلغ چې د شخصي لوبغالي کرایې لپاره ورکړی و باید چې له خپل نماینده څخه بیرته ترلاسه کړي.
- امکان لري چې په یو ولایت کې سیالۍ په یو وخت کې هم د کرکټ بورډ په رسمي لوبغالي او هم په شخصي لوبغالي کې تنظیم شي نو پدې حالت کې، نماینده باید ډاډ ترلاسه کړي چې د یو ټیم میچونه په مساوي ډول د کرکټ بورډ او شخصي لوبغالو ووېشل شي، او ټیمونه به یواځې د شخصي لوبغالي د کرایې مسؤلیت ولري.

| هغه ولایتونه چې خپل لوبغالي لري | | | |
|---|---|---|---|
| ګڼه | لګښتونه | نفر سر/ یو واري مصرف | ټولې |
| ۱ | د یوې سیالۍ لپاره درې لوبڅاران<br>• دوه د لوبغالي لوبڅاران د هر یوه لپاره ۷۰۰ افغانۍ<br>• یو ریزف لوبڅار ۵۰۰ افغانۍ | ۵۰۰-۷۰۰ | ۱۹۰۰ افغانۍ |
| ۲ | دوه نمره شمیرونکي | ۵۰۰ | ۱۰۰۰ افغانۍ |
| ۳ | څلور بالونه او د بیړني حالت ۱۰۰ افغانۍ بودیجه | ۲۰۰ | ۹۰۰ افغانۍ |
| ۴ | اداري لګښت | ۱۰۰ | ۱۰۰ افغانۍ |
| **د یوې سیالۍ لګښت** | | | **۳۹۰۰ افغانۍ** |
| **د کلب د یوې سیالۍ لګښت** | | | **۱۹۵۰ افغانۍ** |
| **د کلب پینځه سیالیو لګښت** | | | **۹۷۵۰ افغانۍ** |